پوهندوی آصف بهاند

# د لوږې سونامي

## دیارلسمه برخه

### د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

### اته ځلوېښتمه برخه




په وروسته پاتې ټولنو کې به له ماشومانو، کوچنیانو او مېرمنو سره تاوترخوالی په بېلابېلو ډولونو تر هغو پورې روان وي چې د خلکو په ذهنونو کې ژور بدلون رامنځته شي، د ذهنونو بدلېدلو ته هغه وخت زمینه برابرېدای شي چې خلک تعلیمیافته شي او په ټولنه کې یو ژور تعلیمي بدلون راشي. که دا کار ونه شي او د خلکو د سواد او پوهې کچه ډېره ټیټه وي، نو د تاوتریخوالي او نورو ستونزو ځادر به تل غوړېدلی وي.

اوس چې ډېری خلک بې تعلیمه دي، له ګڼو ستونزو سره مخ دي، تاوتریخوالي ورسره روان دی، کار نه شته او د لوږې سونامي د ټولنې ډېره سلنه خلک ځپلي دي.

د همدې ناخوالو په اړودوړ کې، په افغانستان کې د رژیم له بیا بدلېدو سره د کار لمن په رسمي او غیر رسمي ساحو کې ورټوله شوه، ډېر خلک بیکاره شول، لوږه پر ټولنې باندې تر دې بریده حاکمه شوه چې خبره بشري ناورین ته ورسېده، کورنۍ بیا هم اړوتلې چې د ژوندي پاتې کېدو له پاره خپل کوچنیان لارو او واټونو ته وباسي یا یې سوال کولو او ګدایي ته کینوي او یا همدا کوچنیان شاقه کارونو ته اوږه ورکړي او د یوې مړۍ وچې ډوډۍ پیسې وګټي؛ په دې حال کې هم د تاوتریخوالي ډېره سلنه ماشومانو او کوچنیانو ته ور په برخه ده، کوچنیان د ښوونځي په ځای ګدایي او شاقه کار ته لېږل کېږي. که مو وخت درلود دا

لینک کلیک کړئ او د بي بي سي دېر تازه رپوټ وګورئ چې افغان کوچنیان د یوې مړی ډوډوی د پیدا کولو له پاره په سختو سړو کې کوم کاروونه تر سره کوي:

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-59811933

دا چې له تاوتریخوالي او لوږې سره یو ځای خلک څومره زوروي، خلکو ته څومره سپکاوی کېږي او دا سپکاوی د ماشومانو، کوچنیانو او نورو خلکو پر ژوند څومره منفي اغیز پرېباسي، دې ته د ډېرو خلکو پام نه دی. د ملګروملتونو یو لوړ پوړي چاروا‌کي دې موضوع ته داسې اشاره کړې ده:

«انسان پر یوه ګوله ډوډۍ سربېره نورې اړتیاوې هم لري. عزت، وقار او هیلې ته اړتیا لري.»

پر افغانستان باندې د لوږې سونامي څپې ورور ـ ورو خپرې شوې، نړیوالو یې ننداره کوله، کله چې خبره د بشري ناورین برید ته ورسېده، د ملګرو ملتونو تر څنګ ځینو خیریه مؤسسو هم د مرستو د راټولولو او تر اړمنو کسانو یې د رسول کار پیل کړ.

اوس د ملګرو ملتونو او خیریه مؤسسو تر څنګ، په نړیواله کچه لوړو ډیپلوماتیکو شخصیتونو هم د افغانستان د څه باندې ۲۳ میلیونو وږو وګړو له پاره د مرستو ټولولو غږ کړی دی. په یوه رپوټ کې راغلي دي چې د انګلس ولیعهد شهزاده چارلس له افغانستان سره بشري مرستو کمپاین کې برخه واخیسته.

دغه راز د انګلیس پخوانی صدراعظم ښاغلی ګوردن براون هم د هغو کسانو په ډله کې دی چې د افغانستان د بشري ناورین د مخنیوي له پاره یې د مرستو ټولولو غږ کړی دی. ګوردن براون ویلي دي چې: «نړیواله ټولنه دې په بیړه له افغانستان سره بشري مرستې وکړي»

ګوردن براون په ربینتیا سره د یوه انساني احساس له مخې پر ټولې نړۍ غږ کړی دی چې باید له افغانانوسره مرسته وشي. د بي بي سي په رپوټ کې د ګوردن بران د خبرو
په باب داسې راغلي دي:

«د بریتانیا پخواني لومړي وزیر ګورډن براون پر نړیوالې ټولنې غږ کړی چې له افغانستان سره دې په بیړه بشري مرستې وکړي.

ښاغلي بروان خبرداری ورکړی او ویلي یې دي چې "لویدیځ زموږ د مهال د تر ټولو لوی بشري ناورین په اړه ویده دی" .

د ښاغلي بروان په وینا افغانستان کې ۲۳ میلیونه وګړي له ولږې سره مخامخ دي.

هغه غوښتنه کړې چې د پیسو ټولولو لپاره باید نړیوال کنفرانس ژر وبلل شي چې له افغانستان سره د څلور اعشاریه پنځو ملیاردو ډالرو مرسته برابره شي.

ګوردن براون چې اوس مهال د ملګرو ملتونو لخوا د زده کړو د سفیر په توګه دنده ترسره کوي دغه راز خبرداری ورکړی چې په افغانستان کې بحران به ګاونډیو هېوادونو او اروپا ته د ګڼو افغانانو د تګ لامل شي...»

د پاسنیو سیاسي اشخاصو ترڅنګ خیریه مؤسسو هم د بسپنې د ټولولو هڅې پیل کړې دي. د انګلستان د طبعي افتونو ضد کومیټې ، د افغانستان د لوږې سونامي او د رامنځته کېدونکي بشري ناورین د مخنیوي له پاره د نویو مرستو د راټولو غږ کړی دی. په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«... د طبعي اپتونو د مخنيوي کومېټې خبرداری ورکړی چې کورونا وبا، کړکېچ او وچکالۍ افغانستان د بشري بحران په څنډه درولی دی.

دې کومېټې ويلي چې پنځه ميليونه ماشومان چې عمرونه يې له پنځو کلونو کم دي ښايي په افغانستان کې ومري هغه يې اشاره يې هغو ماشومانو ته وي چې ملګرو ملتونو هم د خوراکي توکو له کمښت سره مخامخ بللي وو.»

په يوه بل [رپوټ](#) کې راغلي دي چې: د بريتانيا ۱۵ خيريه بنسټونو چې اکسفام، کرېستين ايډ، اسلاميک ريليف او د برتيانيا سره صليب کمېټه هم په کې شامل دي په ګډه له خلکو نه په افغانستان کې د بشري بحران لپاره مرسته غوښتې ده.

د افغانستان د بشري ناورين پورې اړوند په ټولو رپوټونو کې ټينګار شوی دی چې که له افغانانو، پهړتېره له ماشومانو، کوچنيانو او باداره ښځو سره بېړنۍ مرستې ون شي، ښايي د پنځو ميلونو په شا و خوا کې ماشومان او کوچنيان تلف شي. دا د راپور يوه [برخه](#) ده:

«دې کومېټې ويلي چې پنځه ميليونه ماشومان چې عمرونه يې له پنځو کلونو کم دي ښايي په افغانستان کې ومري ښايي اشاره يې هغو ماشومانو ته وي چې ملګرو ملتونو هم د خوراکي توکو له کمښت سره مخامخ بللي وو.»

د سياسي اشخاصو، ملګرو ملتونو او خيريه مؤسسو ترځنګ د هېوادونو په کچه هم د مرستو يولست خپور شوی دی. تراوسه پورې دغو [لاندې](#) هېوادونو په انځور د ليکلې اندازې سره مرستې کړې دي:



بله لویه ستونزه دا ده چې په افغانستان کې د بشري ناورين د مخنيوي له پاره د ملګرو ملتونو، خيريه ټولنو او بېلابېلو هېوادونو له لوري، دا راټولې شوې مرستې څنګه تر اړمنو پورې ورسول شي

ملګري ملتونه وايي، له اړمنو افغانانو سره يې د مرستې لپاره د تېر کال په اوږدو کې يو اعشاريه پنځه ميلیارده ډالره بسپنه ترلاسه کړې. دا راټولې شوې مرستې ويشل شوې دي، خو خلک بيا هم شکايت کوي.

دا عکس وګورئ:




د خوړو له نړيوال سازمان
څخه د افغان ماشومانو غوښتنه

www.dawatmedia24.com